همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

۱۳۸۸ - ۱۳۹۷

# د افغانستان سره د المان همکاري

په افغانستان کې د تاوتریخوالي د څو لسیزو شخړو په پایله کې د افغانستان د ډېرو خلکو معیشت له منځه تللی دی. افغانستان چې د نړۍ د ترټولو بې وزلو هېوادونو په ډله کې راځي د آلمان د همکارۍ لپاره لومړیتوب لري. نړیواله ټولنه په افغانستان کې د ۲۰۰۱ کال راهیسې کله چې د طالبانو رژیم رانسکور شو د مدني بیا رغونې څخه ملاتړ کوي. المان په تیره بیا د بدخشان، بغلان، بلخ، کندز، سمنګان او تخار په ولایتونو او همدارنګه په کابل ښار کې د بیار غونې په کارونو بوخت دی.



د آلمان د همکارۍ پروګرام د افغان دولت څخه د بشري حقونو د دره ناوي، ساتنې او تضمین په لاره کې ملاتړ کوي چې د خلکو دپاره امنیت برابرکړي، او د اتباعو له خوا د هغوی د مشروع استازي او د خدمتونو د برابروونکي په توګه چې د هغوی بنسټیزې اړتیاوې رفع کوي وپیژندل شي. راتلونکې افغان دولت به وکولای شي خپلو اتباعو ته حقوقي امنیت برابرکړي او د راتلونکي دپاره هغوي ته لیرلیدونه ورکړي، او ددوی دپاره داسې فرصتونه برابرکړي چې په سیاسي ژوند کې ګډون وکړي او د هیواد د اقتصادي ژوند او سیاست په جوړولو کې برخه واخلي.
المان د بي وزلۍ سره د مبارزې په لاره کې او د حکومتولۍ او همدارراز د اقتصادي وضعې د سمون په موخه د افغانستان سره مرسته کوي تر څو چې د دا هیواد د یوه پایښتونکي ثبات او مصئونیت دپاره یو بنسټ جوړکړي.

| د اعدادو له مخې د المان همکاري | غیرحکومتي ادارو ته د سبسایدی په شمول تولیز اعداد |
|---|---|
| د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۸ کلونو تر منځ د المان د حکومت له خوا څخه دپاسه **۳,۸** میلیارده یورو تولیزه پانګونه | **۱۰۷** سازمانونه هغه پراختیایي پروژې پلی کوي چې د المان د حکومت له خوا تمویلیږي |
| د ۲۰۰۹ کال نه تر ۲۰۱۸ کاله پورې **۵۵۸** پروژې | **۶۷** افغانی مل سازمانونه |
| په افغانستان کې د المان د پراختیایي خدمتونو څخه د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې **۳۳۴** ولسوالی ګټه پورته کوي | د **۳۳۴** ولسوالیو نږدې ۲۲ میلیونه اوسیدونکي د افغانستان سره د المان د همکارۍ څخه ګټه پورته کوي |

د افغانستان سره د المان د همکارۍ پروګرام د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) په استازیتوب دریو بنسټیزو موضوعګانو ته ژمن دی: **ښه حکومتولي، پایښتونکي اقتصادي پراختیا، ښاري پراختیا او د ولسوالیو بیخبنا**. سربیره پردې، د المان د بهرنیو چارو وزارت د هغو پروژو څارنه کوي چې په افغانستان د **بشري مرستو** او **ثبات جوړونې** په ډګرونو کې پلې کیږي.

د ۲۰۰۹ نه تر ۲۰۱۸ کاله پورې د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا او د بهرنیو چارو د وزارتونو مالي مرستې (یورو)۱




۱ په تولیزه پانګونه او پورتنۍ ګراف کې چې د افغانستان سره د المان همکاري څرګندوی هغه مالي مرستې (۳۴۹ میلیونه یورو) چې د المان د فدرالي حکومت له خوا غیرحکومتي سازمانونو ته ورکړل شویدي، نه شاملیږي. دغه معلومات د هغو اټکلو پر بنسټ لیکل شویدي چې د ۲۰۱۸ کال تر پایه پورې شوې دي او کیدای شي لږڅه توپیر ولري.
۲ د لومړیتوب د ډګر نه بهر د انعطاف منني او همکارۍ په پروګرامولو کې د ښووني او روزنې پروګرامونه، د ریسک مدیریت، مخابرات او همداراز څارنه او ارزونه شاملیږي.

www.germancooperation-afghanistan.de

سربیره پردې، د المان فدرالي حکومت د افغانستان د بیاجوړونې د ایمني وجهي صندوق (ARTF) څخه چې د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي د ۳۶۸ میلیونو نورو یورو د برابرلو او همدارانګه د ښوونې او روزې د کیفیت د سمون د پروژې (EQUIP) څخه چې د نوموړي وجهي صندوق یوه برخه جوړوي د ۱۲۸ میلیونو یورو د بلاعوضې مرستې په کولو سره ملاتړ کوي.

د ۲۰۱۸ کال د جولای د میاشتې راپدې خوا، د شاوخوا ۱۱۰ الماني کارکوونکو او نړیوالو کارپوهانو په شمول، نږدې ۱۲۴۰ کارکوونکي په افغانستان کې د المان د KfW د پراختیایي بانک او همدارا ز د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH په پلې کوونکو ادارو کې چې د المان د فدرالي حکومت له خوا ګمارل شویدي، په کار بوخت دي.

## د ۲۰۰۹ کال نه تر ۲۰۱۸ کاله پورې بیخبنایي اقدامونه

- د ۱۲۹۰ کیلومترو (۸۰۵ میله) نه زیات سړکونه جوړ یا ترمیم شویدي
- ۵۷ پلونه د ۱،۸ کیلومترو (څه دپاسه ۱،۱میله) په تولیز اوږدوالي بیارغول شوي یا نوي جوړشویدي
- ۴۰۵ د زده کړې انستیتوتونه ودان، سمون یا نوي شویدي (چې په هغو کې ۱۸۱ لومړنی ښوونځی، ۱۶۱ ثانوي ښوونځی، ۱۸ پوهنتونونه، ۴۵ مسلکي ښوونځی شامل دي) او د هغو څخه شاوخوا ۳۸۰،۰۰۰ خلک ګټه پورته کوي
- د ۲۰۱۳ کال راهیسې څه دپاسه ۳۰،۰۰۰ کورنی د لومړي ځل دپاره د اوبورسولو د شبکې سره نښلول شویدي چې د هغې نه تر ۲۳۰،۰۰۰ تنو پورې اوسیدونکي ګټه پورته کوي
- د څښاک د اوبو نږدې ۸۰۰ سیستمونه نوي جوړشوي یا بیارغول شویدي چې د هغو څخه د ۱،۱۱۵،۰۰۰ تنو نه زیات خلک ګټه اخیستلای شي
- تر ۷۶۳ کیلومترو (۴۷۴،۱ میله) پورې د برېښنا مزي زغول شوي یا جمتوشویدي چې د هغو څخه ۱،۲۸ میلیونه خلک ګټه اخلي
- برېښنا د تولید ۲۲ کارخاني او کوچني ستیشنونه او همداراز د برېښنا ۱۶۹ سبتیشنونه جوړشوي یا بیارغول شویدي
- د کابل د برېښنا کارخانې د پخوا په پرتله ۳ چنده زیاته برېښنا تولیدوي چې دهغې نه په کابل او دهغه په شاوخوا سیمو کې ۱،۹۶ میلیونه خلک او تر ۱۳،۰۰۰ سوداګریزې موسسې ګټه اخلي
- ۶۸ روغتونونه او روغتیايي مرکزونه جوړ یا بیارغول شویدي چې د هغو نه د ۳ میلیونو نه زیات اوسیدونکي ګټه اخلي
- ۱۱۴ اداري یا دولتي ماني نوې جوړې شوي یا بیارغول شویدي.

## د ۲۰۰۹ کال نه تر ۲۰۱۸ کاله پورې سلامشوره، روزنه او ښوونه

- د ۱ میلیون تنو نه زیاتو خلکو ته چې ۱۹۸،۰۰۰ تنه یې ښځې دي، مسلکي ښوونه او روزنه ورکړل شویده
- د ۱۹۶،۰۰۰ تنو نه زیاتو خلکو چې د ۸۶،۰۰۰ تنو زیاتي یې ښځې وې، په مسلکي روزنو کې ګډون مونډلي دی
- ۱۶،۸۰۰ تنو خلکو چې د نیم نه زیاتي یې ښځې وې، د جندر د برابرۍ په هکله روزنه مونډلې ده
- د ۲۸،۰۰۰ تنو نه زیاتو خلکو چې نیم یې ښځې وې، په حقوقي سیمینارونو کې ګډون کړی دیمیداد، در سمینار های حقوقی شرکت نمودند
- د ۲۰۱۰ کال راهیسې، د افغانستان ۲۰ وزارتونو او دولتي ادارو د ۱۵۲ تنو ادغام شویو او بیرته راستانه شویو کارپوهانو مرسته په لاس راوړې ده
- څه دپاسه ۴۹،۰۰۰ اداري او همداراز د وزارتونو کارکوونکو ته چې ۹،۰۰۰ یې ښځې وې، پرمختللې روزنه ورکړل شویده
- د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۶ کلونو تر منځ ۳۰،۰۰۰ تنو زده کوونکو مسلکي زده کړه پایته ورسوله چې ۲۰ سلنه یې ښځې وې
- کابو ۲۷۰،۰۰۰ تنو د هغوی د روزنې په بهیر کې لیک او لوست زده کړیدی
- د ۱۷،۰۰۰ نه زیاتو کورنۍ بیځایه شویو کورنیو د بسیاتوب د پیاوړي کولو د اقدامونو څخه ګټه پورته کړیده
- ۸۰،۰۰۰ مدني قضیې د حقوقو د مدیریتونو (د حکمیت د هیئتونو) له لارې اداره شویدي
- د ۲۰۰۹ کال نه تر ۲۰۱۶ کاله پورې ۳،۶ میلیونه نوي زده کوونکي لومړنیو یا ثانوي ښوونځیو ته ځي چې ۱،۲ میلیونه یې نجونې دي
- د ۲۰۱۰ کال راهیسې، تر ۱۳،۵۰۰ پایښتونکي کارونه او ۳۳ سوداګریز او ۱۸ کارخانې تاسیس شوی یا په وسایلو سمبال شویدی.

---


خپروونکي اداره: د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ)
د افغانستان/پاکستان ۳۱۲ څانګه
www.germancooperation-afghanistan.de

ادیت او اړیکه:
Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH
Pr-unit-afghanistan@giz.de

نیټه: د ۲۰۱۸ کال د جولای میاشت

تطبیق کونکي: KfW
giz Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH